بسم الله الرحمن الرحيم

# News & Comment

## روسيه غواړي دا ځل د افريقا په لويه وچه کې د امريکا ګټې خوندي کړي

**خبر:**

د مالي په پلازمېنه باماکو کې په سلګونو ښاريانو لاريون وکړ او له دغه هېواد څخه يې د فرانسوي ځواکونو د وتلو غوښتنه کوله. لاريون کوونکي د افريقا برج ته نژدې چې د باماکو د سيمې يو سېمبول يا تاريخي ځای دی، را ټول شوي وو او د هغه فرانسوي ځواکونو د وتلو غوښتنه يې کوله، چې له ۲۰۱۴م، کال راهيسې په مالي کې د بارکخاني عملياتو په نامه د يوې برخې په توګه ځای پرځای شوي وو. د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ هغه وخت اړيکې خرابې شوې، چې د روسيې شخصي پوځي کمپنۍ واګنر (PMC) ادعا وکړه، چې په مالي کې به خپل پوځيان ځای پرځای کړي، په دې سره د چارواکو له سختو څرګندونو له امله حالت نور هم کړکېچن شو. فرانسې د جنوري په ۱۲مه، مه د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته د مالي پر وړاندې د بنديزونو د پرېکړه ليک مسوده وړاندې کړه، خو دغه سند د روسيې او چين د مخالفت له امله پټ وساتل شو.

**تبصره:**

په مالي کې د فرانسې پوځي عمليات په حقيقت کې د هغو عملياتو دوام دی، چې په ۲۰۱۳م، کې په خپلو پخوانيو مستعمرو کې د سياسي حالت د بدلون له امله پيل شوي وو. يوازينی توپير يې دا دی چې د دغه عملياتو څپه ګاونډيو هېوادونو لکه موريتانيا، بورکينا فاسو، ناجر او چاد ته وغځېده.

د ۱۹پېړۍ له پای ته رسېدو او د مسلمانانو له لسيزو سخت مقاومت وروسته اوسنی مالي د لويديځې افريقا د يو شمېر نورو هېوادونو په څېر د فرانسې له خوا استعمار شو. د شلمې پېړۍ په شپېتمه لسيزه کې د ملګرو ملتونو تر څار لاندې د استعماري پاليسۍ د يوې برخې په توګه يې د ۱۹۴۱م، د اتلانتيک د پلې شوي منشور مطابق سياسي آزادي واخيسته. د دغه منشور مطابق اروپايانو له امريکا سره ژمنه وکړه، چې د دويمې نړيوالې جګړې د ملاتړ په بدل کې امريکا ته په خپلو مستعمرو کې د استثمار او لوټولو لپاره مساوي لاسرسی ولري.

مالي د رسمي خپلواکۍ له ترلاسه کولو سره، له فرانسوي استعماري ټولنې سره اړيکې پرېکړې. د ۱۹۶۸ کال له پوځي کودتا وروسته فرانسې وکوالای شول، چې يو ځل بيا د لويديځې افريقا هېوادونه د اقتصادي مرستو په چوکاټ کې مالي ببرته تر خپل نفوذ لاندې راولي او د خپلو ګټو لپاره يې وکاروي. په ورته وخت کې امريکا په سيمه کې د واکمنۍ لپاره اقتصادي، سياسي، او قومي مسايلو ته لمن وهله.

په ۲۰۱۲م، کې د مالي په شمال کې اوسېدونکو طوارقو د هغو وسلو په نيولو سره چې ويل کېدل په ليبيا کې شوريشيانو ته رسېږي، د ځينو جهادي ډلو په ملاتړ شورش وکړ او د ازواد په نوم يې د خپلواکه دولت د جوړولو اعلان وکړ.

پوځ پر ولسمشر تور پورې کړ چې د پاڅون په ماتولو کې پاتې راغلی او د کودتاه مخه يې ونشوای نيولای. په داسې حال کې چې فرانسې د خپلو اتباعو او هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا د ساتنې او له اسلامپالو څخه د ازادولو په پلمه مالي ته خپل پوځي ځواکونه ولېږل.

د مالي د واکمن پوځ جنتا او د روسيې شخصي پوځي کمپنۍ واګنر (PMC) تر منځ تړون د دې معنا لري، چې د فرانسوي پوځ پر ځای د روسيې اجير ځواکونه ځای پرځای کړي. سره له دې چې مسکو له وانګر (PMC) سره خپلې اړيکې ردوي، خو د سوريې او لېبيا واقعيتونو ته په کتو سره، روسيې له امريکا سره موافقه کړې، چې په مالي کې د لېبيا او سوريې په څېر ګټې خوندي کړي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: ابو ابراهيم بلال**

**په اوکراين کې د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: محمد هارون رؤفي**